مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.



محمد معصوم هوتک


۲۰۱۸/۱۰/۰۵

# د مور ورځ



سهار مېز وو اوډل سوی
دوه ګيلاسه پر پراته ول
سور ګل پروت د کېک وڅنګ ته
د تحفي د كارت په منځ كي
يو څو نوټه نوي نزي
وه تحفه د اولادونو
مور تازه راپاڅېدلي
زوی په خره تللی كارته
لور له كوره په تلوار ده
په كوم كار پسي روانه
پلار تنها ناست په چورتو كي
مانېجن له زماني څه
اندېښمن و آيندې ته
په ډک زړه وايي، مېرمني!
د مور ورځ دي مبارک سه!!

اشاوا، كاناډا
۱۴ می ۲۰۱۷ع



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ